## الدرس التاسع | نهم درس

### معني :أن محمدا رسول الله ﷺ | معنى د محمد رسول الله ﷺيعني

ددى څه معني ده چي محمد صلي الله عليه وسلم د الله رسول دي ؟ د توحيد د كلمۍ ددى جزء معنى داده چې په ښكاره او پټه باندى محمد مصطفى ﷺ د الله تعالى بنده او ټولو انسانانو ته د الله پاک د طرفنه راليږلۍ شوى رسول ومنلۍ شى ، او ددى په تقاضا باندى عمل وكړى شى ، په څه باندى چى امر كوي هغه ومنلي شي ، او د څه چى خبر ئى وركړى دى په هغى تصديق وكړيشى او د څه نه چى منع كړى ده د هغى نه منع كيږى او دالله پاک عبادت په هغه طريقه كوى چى رسول الله ﷺ ښودلى وى ، د كلمه شهادت ددى حصى دوه اركان دى ، (عبده ورسوله) دادواړه په حق د نبى كريم ﷺكښې افراط او تفريط (كمۍ او زياتى)ختموى ، نو نبي كريم ﷺ د الله پاک بنده او رسول دى ، په دى دواړو عزتمندو صفاتو كښې د هر چا نه كامل دى ، د عبد معنى ده بنده عبادت كونكى، يعنى نبى كريمﷺ بشر دى ، نور انسانان چه د څه نه پيداء شوي دي د هغي نه نبى كريم ﷺ هم پيداء شوى دى ، كوم ضرورتونه چى د نورو انسانانو دى هغه د نبى كريم ﷺ هم دى، الله پاک فرمائى :«قُلْ إِنَّمَاأَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ» الكهف : ١١. ترجمه: ته اووايه ! يقيناڅه بنده يم ستاسو پشان (محتاج يم) ، او الله پاک فرمائى : «الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَنزَلَ عَلَى عَبْدِهِ الْكِتَابَ وَلَمْ يَجْعَل لَّهُ عِوَجَا» الكهف:١ ترجمه : ټول صفتونه دالوهيت خاص دى الله پاک لره هغه ذات دى چى نازل كړى ئےدى په بنده خپل باندى كتاب ، اونه ئے دى ګرځولى ده لره هيڅ كږليچ ، د رسول معنى داده : يعني ټولو انسانانو ته ددعوت الى الله دپاره راليږلى شوى دى زيرى او يره وركونكى دى ، د رسول معنى: د رسول الله ﷺ دپاره ددى دوه صفتونو (اقرار د عبديت او اقرار د رسالت) ګواهي وركولو سره دا خبره لازمه ده چى د نبى كريم ﷺ په باره كښې به افراط او تفريط يعنى كمي او زياتي نشي كولے ، اګر چى ددى امت بعض خلقو دنبى كريم ﷺ په شان مبارک كښې ډيره غلو او زياتى كړيدى تردى پورى چى بعضو د عبديت د مرتبۍ نه دالوهيت مرتبۍ ته رسولي دى ، مددونه ترى غواړى سيواء دالله نه او دهغه څيزونو غوښتنه ترى كوى چى د هغى په وركولو صرف الله پاک قادر دى لكه د حاجتونو پوره كول دغمونو او مصيبتونو لرى كول وغيره وغيره ، بعض نورو خلقو خو د هغه د رسالت نه انكار كړى دي او كوتاهى ئى كړى ده په تابعدارئ او د واجب حق د نبى كريمﷺ كښې چى مخكښ كړى ئى دى اقوال د ټولو انسانانو په اقوالو او حُكمونو د رسول الله ﷺباندى ، اود نبي كريم ﷺ دسنتو مباركو سره ئے جفاء كړى ده او مخ ئےترى اړولى ، او په هغه اقوالو باندى ئےاعتماد كړى چى د نبى كريم ﷺ د راوړلے شوى تعليماتونه مخالف دى .